آصف بهاند

# له کورونا سره د مبارزې په څپو کې

# د ژوند له پاره منډې

## (Stafet for Livet)

## ۲۰۲۱

### د ډنمارک په هېډرسلیف ښار کې کلنۍ منډې

### د هېوادپالنې او بشر پالنې یوه غوره بېلګه

### د ژوند له پاره یو بل ګام اوچتول

د ډنمارک په ځینو ښارونو کې د ستفیت فار لیفت (Stafet for Livet) تر شعار لاندې هر کال د سپتمبر د میاشتې په لومړۍ لسو ورځو کې د منډو سیالۍ جوړیږي. د ډنمارک په کوم ښار کې چې زه له خپلې ورېږ کورنۍ سره دېره یم، هیډرسلیف (Haderslev) نومېږي او د منډو دا سیالۍ د ښار په یوه ښنده کې په یو ځانګړي پارک کې جوړېږي.



دا په Haderslev ښار کې یو تفریحي پارک دی چې دام پارک (Damparken) نومېږي او د منډو دا سیالۍ هر کال همدلته ترسره کېږي.



د منډو د دې سیالیو د ۲۰۱۶ ام کال په رپوټ کې ما لیکلي وو چې:

زه د اوس له پاره مالومات نه لرم چې د منډو دغه سیالی به د ډنمارک په څو ښارونو کې تر سره کېږي، خو په ډنمارک کې د ډېرې مشهورې ورځپاڼې، یوسکي ویست کوستین (JydskeVestkysten) د ۲۰۱۶ کال د سپتمبر د میاشتې د شپږمې نیټې د راپور پر اساس په هیدرسلیف ښار کې د (Stafet for Livet) سیالی، نه یوازې د ډنمارک په سطح، بلکې د نړۍ په کچه تر ټولو لویه او ستره سیالي ګڼل شوې ده.

هر کال چې د منډو دا سیالی جوړېږي او زه به په ډنمارکې وم، نو ورتلم او یوه لنډه یا اوږده مقاله به مې ورته لیکله او کله ـ کله به مې د خپل هېواد او ټولنې د حالاتو په نظر کې نیولو سره یو څو پرتلیزې جملې هم لیکلې، د هغو پرتلیزو جملو څو بېلګې دا دي:

**دوی او موږ:**

**ـ د دوی منډې، زموږ منډې؟**

**ـ دوی په ژوند پسې روان دي او موږ په جګړې پسې منډې وهو،**

**ـ دوی د هغه چا د ژوند د ژغورلو له پاره منډې وهي چې هیڅ یې لیدلي نه دي، خو زموږ خلک یا د مرګ له پاره منډې وهي، یا د هیڅ له پاره؟**

**ـ دوی د اټکلي پیښېدونکي ویر د مخنیوي له پاره منډې وهي، خو زموږ په کلي کور کې د دایمي ویر تغر داسې غوړېدلی دی چې ټولولو ته یې هیڅ امید نه شته. د چاودنې او بمباریو د قربانیانو دعا لا نه وي خلاصه چې د جنسي تیري وژونکي او داړونکي بلا داسې خوله پرانېزي چې د یو نه، دوو نه، سلو نه، زرو نه؛ بلکې د ټولنې د اکثریت جسم او روان داسې زخمي کړي چې رغېدل یې ګران نه، بلکې نا شونې وي او د ویر د تغر د ټولیدو امید نور هم له منځه وړي.**

خو تېر کال (۲۰۲۰) د منډو دا سیالی د کورونا وبا د خطر په وجه ترسره نه شوې.

کله چې د لومړي ځل له پاره د چین په وهان کې کورونا وبا سر رااوچت کړ، په یاد ښار کې لس تنه ډنمارکي وګړو ژوند کاوه، د ډنمارک دولت له خپلو امکاناتو نه په استفادې سره، هغو لسو تنو پسې یوه ځانګړې الوتکه ولېږله، ډنمارک ته یې راوستل او په خپلو کورونو کې یې د کرنتین سپارښتنه ورته وکړه. دغه راز ګڼشمېر ډنمارکي کورنۍ ایتالیا ته په توریستي چکر تللي وې؛ نو د ډنمارک دولت له هغو نه ځکه خپل هېواد ته د راتګ هیله وکړه چې په ایتالیا کې تر ټولو نورو اروپایي هېوادونو کورونا ډېره خپره شوې وه. ډنمارک ته د یادو کورنیو له راتګ سره سم، هغوی هم کرنتین شول. له دومره احتیاط سره ـ سره په ډنمارک کې کورونا خپره شوه؛ د همدې دلیل په وجه د منډو دا سیالۍ په ۲۰۲۰ ام کال کې ترسره نه شوې.

د ډنمارک دولت د کورونا د لا خپرونې د مخنیوي له پاره ځانګړي بندیزونه ولګول او اوس د ټولې اروپا په کچه ډنمارک لومړنی هېواد دی چې کورونا وبا یې مغلوبه کړه او ټول لګېدلي بندیزونه د ۲۰۲۱ کال د سپتمبر پر لسمه نېټه په بشپړه توګه لرې کړای شول؛ نو ځکه سږکال (۲۰۲۱ ام کال د سپتمبر پر ۱۱ – ۱۲ مه نېټه) دا لوبې بیا ترسره شوې.

د ډنمارک په هېدرسلیف ښار کې د منډو د دې سیالیو په باب د مقالو لیکلو لړۍ ما په ۲۰۱۴ ام میلادي کال کې راپیل کړه، ما په خپله لومړنۍ مقاله کې داسې لیکلي وو:

«۲۰۱۴ کال د سپتمبر په شپږمه او اومه نیټه د ۲۴ ساعتونو له پاره (د ژوند له پاره منډې) ترشعار لاندې د منډو سیالي تر سره شوه. خلکو له ِسني او ِجنسي توپیرنه پرته په لوبو کې د ګډون له پاره په ګڼو ټیمونو کې نومونه لیکلي وو.

توپیر یې له نورو سپورټي سیالیو سره دا و چې په نورو سیالیو کې ګټونکي یو څه تر لاسه کوي، خو په دې سیالیو کې هیڅ چا مادي څه تر لاسه نه کړل، بلکې له خپلو جیبونو نه یې په سیالیو کې د ګډون ونډه ورکوله.

په دې میله ډوله سیالیو کې چې څومره شیان خرڅ کړای شول، له ګټې نه تر لاسه شوې پیسې له سرطاني ناروغیو سره د مبارزې فونډ ته ولېږدول شوې.

د سیالیو د تر سره کیدو په سیمه کې د سرطاني ناروغیو په باب مالوماتي پاڼې اوشعارونه، د ناروغیو د مخنیوي لارې چارې، په رنګه او ښکلې بڼه لګول شوی وو.»

د تېرو کلونو په څېر په سږنیو منډو کې هم، په هغو لارو کې چې د سیالۍ ګډون کونکي منډې وهي، د لارو په اوږدو او ځینو ځانګړو ځایونو کې سپین کاغذي پاکټونه ایښودل شوي وو:



د پاکټونو په منځ کې میده شګه او د شګو په منځ کې یوه ډیوه (شمع) ایښی وي، د لوبو د لومړۍ ورځې په ماښام ډیوې لګول کېږي او تر سهار پورې بلې وي، د دې سپینو پاکټونو پر ډډو باندې، د پاکټونو د اېښودونکو له خوا د بیلابیلو مسیژونو، شعارونه، شخصي هیلو او ځینو نومونو د لیکلو سپارښت شوی وی. دا یې د عکسونو دوې بېلګې دي چې ما په خپل موبایل سره له سږنیو لوبو نه اخیستې دي. پر پاکټونو باندې د لیکل شوو جملو متن ژباړه تر عکس لاندې ږدم:




پلاره تا ته یوه لویه هیله: راباندې ګران یې،
موږ به له هغه څه سره مبارزه وکړو چې ته یې رانه واخیستې.




دا ډیوه ټولو هغو ته بلوم چې د سرطان له لاسه تللي دي او هغه ته چې په سرطان اخته شوي دي

د سږکال په منډو کې د ګډونکونکو شمېر د تېرو کلونو په پرتله لږ وو، خو د هیدرسلیف ښار د منډو مسؤلینو ویلي دي چې له ۲۰۱۳ ام کال نه تر اوسه پورې، په سیالیو کې د ګډون کونکو شمېر تر پنځوس زرو اوښتی دی او د سیالیو له پیل نه تر اوسه پورې یې له سرطان ناورغۍ سره د مبارزې فونډ ته د لس میلیونه ډنمارکي کرونه تول کړي دي.

لکه د تېرو کلونو په څېر سږ (۲۰۲۱ ام) کال هم د ډنمارک د هیدرسلیف په ښار کې په جوړو شوو سیالیو کې هیڅ څوک بایلونکي نه دي، بلکې ټول ګډونوال، ګټونکي دي. په دې لوبو کې ټولې منډې او هلې ځلې د انساني احساس له مخې، له مرګ نه د یو انسان د خلاصون له پاره دي.

**دلته اصلي ګټونکی هغه انساني احساس دی چې د انسان د ژوند د ژغورلو له پاره هڅه کوي،**

**دلته اصلي ګټونکی هغه انسان دی چې**

**د یو بل نا لیدلي انسان د ژغورولو له پاره پل اوچتوی او زغلي.**



Haderslev, Stafet for livet